مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

امان الله تاند

۲۰۲۰/۰۸/۲۹

# ځنځیري وژنې، د سولې پر وړاندې نوی خنډ

افغان طالبان دوحې تړون ته په کتو ټینګار کوي چې د افغانانو ترمنځ خپل منځي خبرو پیل کېدو لپاره اړینه ده ترڅو افغان حکومت د هغوی ۵ زره زندانیان ورخوشي کړي. افغان حکومت که څه هم د ۴۵۰۰ زیات طالب بندیان له مختلفو زندانونو څخه خوشي کړي، مګر د پاتې هغو ۴۰۰ زندانیانو په اړه چې د افغان حکومت پر وینا په لویو پېښو کې یې لاس درلود د خوشې کولو واک یې هغې جرګې ته ورکړ، چې د روان کال اسد میاشتې په 19 نېټه ترسره شوه. وروستۍ مشورتي جرګې افغان حکومت ته په دې شرط چې د وینې تویولو لړۍ به د دواړو لورو لخوا بندیزي د ۴۰۰ زندانیانو خوشي کېدو اجازه ورکړه. تر اوسه د یادو 400 زندانیانو له ډلې ویل کېږي یوازې 80 تنه خوشي شوي او په ورته وخت کې د ټول هېواد په سطحه تاوتریخوالي لاپسې زور اخیستی.

## ځنځیري وژنې د سولې پروسه ټکنی کوي:

د دواړو خواوو له لوري د بندیانو خوشې کولو کمزورې لړۍ هغو کسانو ته چې نه غواړي افغان سوله د بریا لور ته ولاړه شي، فرصت برابر کړی ترڅو بې باوریو پیدا کولو ته په آسانۍ سره لاره جوړه کړي. تېرو تجربو ته په کتو هر کله چې د سولې خبرو اترو په برخه کې اغېزمن پرمختګونه لیدل شوي، په عین وخت کې هغه داخلي او بهرنۍ کړۍ چې ګټې یې په نا امنۍ کې نغښتي وي هغوی هڅې کوي ترڅو د سولې په برخه کې کلیدي افرادو وژلو سره د سولې لړۍ سبوتاژ کړي. پر همدې بنسټ د اسد میاشتې په 29 نېټه د سولې فعال شخصیت دکتور عبدالباقي امین په یوې بمي چاودنه کې شهید کړای شو. د دوکتور امین وژل که څه هم د ارګ له لوري و نه غندل شو، مګر په کور دننه د پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون ډېرو سیاستوالو او ملي شخصیتونو د نومورړي وژنه په کلکو ټکو وغندله او څرګنده یې کړه چې د دوکتور امین وژونکي هغه ځوک دي چې نه غواړي په افغانستان کې تل پاتې سوله راشي. په بهرنۍ کچه هم د ډاکتر امین وژل کیدل د علمي اوسیاسي حلقاتو لخوا په پراخه ډول وغندل شول، د افغان سولې په برخه کې د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د ټویټر پیغام له لارې دوکتور امین د سولې فعال یاد کړ او د نومورړي وژل یې د سولې پروسې سبوتاژ کوونکو کار وباله. له دکتور امین وړاندې هم یو شمېر دیني او علمي شخصیتونه چې د سولې په برخه کې یې هم هلې ځلې کولې د داسې کسانو له لوري ترور او شهیدان کړای شول چې تر اوسه یې څرک نه لیدل کېږي خو د شهید شویو شخصیتونو څرګندونو ته په پام دا په ډاګه کېدلی شي چې د نومورړو وژونکي د سولې او ثبات د دښمنانو کار دی. په داخلي کچه د سولې مخالفین چې سولې راتګ سره یې شخصي ګټې له خنډ سره مخ کېږي هغوی هڅه کوي چې د سولې فعالینو په وژلو سره د سولې روانې پروسې په اړه عامه اذهان ګډوډ کړي او بې باورۍ ایجاد کړي.

په دې وروستیو کې د دیني او علمي شخصیتونو ځنځیري وژنو ته په کتو په افغان حکومت هم کلکې نیوکې کېږي چې نه یوازې د سولې فعالینو او شخصیتونو ژوند ژغورلو په برخه لازم اقدامات نه ترسره کوي، بلکې د وژنو وروسته خاموشي اختیاروي. مرحوم دکتور عبدالباقي امین چې په افغانستان کې د تل پاتې سولې کلک طرفدار وو، افغان حکومت یې په اړه بې غوري او خاموشي اختیار کړې، په داسې حال کې چې نومورړی د همدې حکومت یو لایق کدر او د معارف وزارت له ډګره یې د هېوادوالو په چوپړ کې وو. د نومورړي وژنه نه یوازې د افغانستان بلکې د اسلامي نړۍ لپاره یوه داسې تشه ده چې په ډېر وخت کې به یې د ډکولو هڅې ناشوني وبرېښي، همدا لامل وو چې د اسلامي نړۍ په سطحه د نومورړي وژنه په سختو ټکو کې وغندل شوه. داکتر امین په داسې حال کې وژل کېږي چې ځینې مطرح سیاسي څېرو ولسمشر محمد اشرف غني ته په یو پرانستي لیک کې یادونه کړې چې په



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څېر و لولئ

حکومت کې دننه ښايي کومه داسې کړۍ شتون ولري چې د سولې پر وړاندې د خنډونو ايجادول او د جګړې پر دوام باور لري او دا کار بيا د حکومت او ولس ترمنځ نور واټن او بې باوريو پيدا کولو ته هم زمينه برابرولی شي.

## په ولچکونو غوټه شوې سوله:

امريکا د دوحې تړون له مخې طالب چاراواکو ته ډاډ ورکړی چې د هغوی پينځه زره زندانيان به ورخوشي کوي او طالبانو بيا هوکړه کړې چې د دې کار وروسته به د افغانانو ترمنځ خپل منځي خبرو اترو کې ګډون کوي. افغان حکومت بيا په دې هڅه کې دی چې د خپل منځي خبرو اترو مشري به کوي او د يو لوري په توګه به له طالبانو سره په خپل منځي خبرو اترو کې ګډون کوي. دا بيا هغه څه دي چې طالبان يې منلو ته چمتو نه ښکاري او څرګندويي چې افغان حکومت سره د نورو افغان استازو په څېر د يو لوري په توګه خبرو اترو ته چمتو دي او يوازې د افغان حکومت سره د يو مقابل لوري په څېر خبرو اترو ته نه ورداننګي. او ښايي بين الافغاني خبرو اترو لړۍ ته د نه رسيدو اصلي لامل همدا وي. امريکا هم په ظاهره د دوحې تړون له مخې ټينګار کوي چې دواړه لوري دې تاوتريخوالی کم کړي او پاتې زندانيان دې خوشې کړي، افغان حکومت چې د 4 سوه طالب بنديانو خوشې کېدو لپاره يې مشورتي لويه جرګه راغوښتې وه چې په ميلونونو افغانی لګښت پرې راغی، خو ليدل کېږي چې د يادې جرګې پرېکړې هم پلې نه شوې او لا هم سوله د زندانيانو ولچکونو پرانستل کېدو پورې مشروطه ښکاري. افغان دولت د مشورتي جرګې پرېکړو وروسته اوس څرګندوي چې د حکومت بنديان دې خوشې کړای شي، او طالبان دې د نړيوالو تروريستي ډلو څخه ځانونه بېل کړي. د افغان حکومت دې وروستيو غوښتنو ته که څه هم دوحې تړون کې ځای ورکړی شوی او طالبانو په ياد تړون کې په دې برخه کې ژمنې ترسره کړي دي. په اوس وخت کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د بنديانو خوشې کېدلو پر سر اختلافونه هغه څه دي چې د سولې پروسه يې له خنډ سره مخ کړې او د خپل منځي خبرو اترو مخه يې نيولې ده.

## ډاکتر امين څوک وو؟

ډاکتر عبدالباقي امين په کال ۱۳۴۴ هـ ش کال کې د وردګو ولايت د ( دايميرداد ولسوالی په دالان کلي کې نړۍ ته سترګې وغړولې.
په کال 1990 م کال يې د مديني منورې د اسلامي پوهنتون د شرعياتو پوهنځی ولوست. په کال 1996 کال کې د سوډان هېواد د (ام درمان په اسلامي پوهنتون) کې په مقايسوي فقه کې ماسټري او په کال 2001 کې يې په ياده ځانګه کې د دکتورا ترکچې زده کړې ترسره کړې. مرحوم ډاکتر امين د 2011 څخه تر 2018 کال پورې د ستراتيژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز رئيس او تر هغې دمخه د ليبيا، سوډان هېوادونو په ګډون د اسلام نړيوال اسلامي پوهنتون کې د استادی مقدسه دنده ترسره کړه. اوسمهال د سلام پوهنتون ماسټری دورې استاد، او په خپل ابتکار سره يې د قاصد د ستراتيژيکو څېړنو مرکز جوړ کړ. له دې پرته نوموړي د معارف وزارت د علمي شورا رئيس په توګه دنده ترسره کوله. نوموړی د تحقيق او څېړنې په ډګر کې په پراخه کچه خدمتونه ترسره کړي دي. د قانون، شريعت، سياست، د څېړنې او يو شمېر نورو موضوعاتو په اړه چاپي آثار ليکلي، په ډېرو نړيوالو کنفرانسونو کې يې ګډون کړی وو او زيات شمېر علمي مقالې يې په داخلي او نړيوالو ژورنالونو او مجلو کې نشر شوي دي.
نوموړي د قانون په برخه کې هر اړخيزه مطالعه لرله او کولی يې شول ترڅو د سولې په پروسه کې د يو کليدي شخص په توګه ونده ولري. په داسې حال کې چې نوموړي د سولې راوستلو په برخه کې زياته ليوالتيا لرله، په همدې تړاو يې د افغان سياستوالو ترمنځ د همغږی رامنځ ته کولو لپاره د يو قطري څېړنيز مرکز په همکاری د قاصد ستراتيژيکو څېړنو مرکز په چوکاټ کې "د افغانستان د راتلونکي تفکر خونې" په نوم د مطرحو افغان سياسي څېرو يو مشورتي ګروپ په جوړولو کې رول درلود. ډاکتر امين په ښې حکومتولی او د افغانستان ښې راتلونکي باندې باور درلود او په دې لړ کې يې هم سترې کولې.

## تل پاتې سولې ته څنګه رسيدلی شو؟

افغان حکومت، طالبان او نورې خواوې، د سولې د پروسې د کاميابېدو په خاطر بايد د افغان مشرانو، عالمانو، سياست والو او د سولې د فعالينو د ژوند څخه په کلکه ساتنه وکړي او د سولې په پروسه کې ولسي حرکتونه د امکان ترحده ځان سره شريک کړي. د دې لپاره چې په افغانستان کې تل پاتې سوله استقرار پيدا کړي، حکومت او طالبان بايد د بنديانو خوشې کولو په برخه کې د هر ډول بهانو او پلمو څخه لاس واخلي او د بنديانو خوشې کولو لړۍ د يو منظم ميکانيزم له لارې له سره پيل او زره تر زره پای ته ورسوي. اړينه ده چې د سولې روانه پروسه يو ښه فرصت وګڼل شي، او زر زره د افغانانو ترمنځ خپل منځي خبرې اترې پيل شي. که د بنديانو خوشې کولو په برخه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولـئ

کې دغسې ځنډ دوام پيدا کړي نو سبوتاژ کوونکو لپاره به يو ښه فرصت برابر شي ترڅو د سولې روانه پروسه د کليدي افرادو وژلو او بې باوريو پيدا کولو سره له ستر ځنډ سره مخ کړي.
د سيمې هېوادونه په ځانګړې توګه پاکستان او هند بايد د افغان سولې په برخه کې خپل منځي رقابتونه مطرح نه کړي او افغانان پرېږدي ترڅو يوې واقعي سولې ته ورسيږي. په دې برخه کې نړيواله ټولنه کولی شي خپل رول اداء کړي. ځکه په افغانستان کې ټل پاتې سوله د سيمې د اقتصادي او سياسي پرمختګونو لامل ګرځېدلی شي. دا چې په دې وروستيو کې يو ځل بيا هند او پاکستان يو بل د افغان سولې په برخه کې د سبوتاژ کوونکو په تور تورنوي دا کار د سولې روانه لړۍ له ځنډ او بې باوريو سره مخ کوي. افغانان بايد د بل هر وخت زياته متوجه واوسي ترڅو سوله د نورو ګټو قرباني نه شي او له روان فرصت څخه اعظمي ګټه پورته کړي.
په کور دننه يو شمېر کسان هم د سولې په اړه شکونه ښکاره کوي، د بېلګې په توګه د ولسمشر دواړو مرستيالانو په دې وروستيو کې ځينې څرګندونې ترسره کړې او طالبان يې د خپل منځي خبرو اترو په ځنډ تورن کړل. د سولې اوسنی فرصت بايد د تورونو قرباني نه شي او د سولې په برخه کې يوازې اغېزمن ګامونه واخيستل شي. ځينې کسان بيا د يوې بلې جګړې تيارى خبرې کوي او د سولې په اړه شکونه ښيي، چې ګواکې هغوی د سولې خبرو اترو څخه لرې پاتې شوي. د دې لپاره چې افغان ولس رېښتينې سولې ته ورسيږي د دواړو لوريو څخه په لوړه کچه بايد داسې څرګندونې ترسره نه شي چې د سولې په روانه لړۍ د خلکو اذهان ګډوډ کړي. او اړينه ده چې د سولې په روانه پروسه کې د افغان ولس ټول قومونه او مطرح شخصيتونه ګډ کار ترسره کړي، ځکه سوله د ټولو اړتيا ده او بايد د لومړيتوب په توګه وپېژندل شي.
دا چې افغان حکومت او طالبانو د خپل منځي خبرو اترو لپاره خپل پلاوي اعلان کړي، دا يو ښه پرمختګ دی او اړينه ده چې د پاتې بنديانو خوشې کولو وروسته دواړه لوري زر تر زره بين الافغاني خبرې اترې پيل او د جګړې روان شدت چې هره ورځ د دواړو خواوو څخه يوازې افغانان پکې وژل کېږي پای ته ورسوي. افغان مطرح سياسي شخصيتونه بايد دواړه لوري خپل منځي خبرو اترو پيل کېدو ته وهڅوي او د بې باوريو او سبوتاژ کوونکو پېژندلو په برخه کې دواړو لورو سره په ډېر جرئت مرسته وکوي، ترڅو نور يو افغان هم و نه وژل شي او په افغانستان کې ټل پاتې سولې ته لاره هواره شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ